دا برخه چې تاسې یې په لاس کې لرئ

پدې کې ډیرې په زړه پورې قصې راټولې شوې

خپله یې هم ولولئ او نورو سره یې هم شریک کړئ

Eng!Faridoon Dalsoz Laghmani

★★★★★★★★★★★★

د یو مالداره سړي عجیبه کیسه!




یوه ډېر مالداره سړي په یوه ښار کې ژوند کوه؛

خو له هېچا سره يې یوه روپۍ مرسته نه کوله،

اولاد يې هم نه درلود،

یواځې يې له مېرمنې سره ژوند کوه؛

خو په هغه ښار کې یو قصاب و چې،

اړمنو خلکو ته يې غوښه وړیا ورکوله.

Ketabton.com

ورځ په ورځ د مالدار سړي څخه د خلکو کرکه زیاتېده

خلکو چې هر څومره نصیحت ورته کوه چې،

دا سرمایه چاته ساتې؟ مالداره سړي به

ویل: ستاسو اړتیا په ما پورې تړاو نه' لري، ولاړ شئ له قصاب څخه يې واخلئ.

تر دې چې ناروغ شو، هېڅوک يې پوښتنې ته ولاړ نشو.

بالاخره په یوازیتوب کې مړ شو، بیا یې هم هېڅوک جنازې ته ولاړ نشو، مېرمنې يې یوازې خاورو ته وسپاره.

خو د هغې ورځې په سبا په ښار کې عجیبه پېښه وشوه،

د مالدار سړي له مرګ څخه وروسته، قصاب خلکو ته غوښه وړیا نه ورکوله،

خلکو ترې د لامل پوښتنه وکړه،

قصاب وویل: چا چې د غوښې پیسې راکولې تېره ورځ له دُنیا څخه ولاړ!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرانو ورونو او خویندو!

له دې کیسې څخه دوه درسونه اخیستلی شو،

اول دا چې هیڅکله د چا په هکله ژر قضاوت مکوئ!

لکه څنګه چې په پورتنی کیسه کې، د کلي خلکو له دغه مالدار څخه ډېره کرکه کوله؛

خو هغه ډېر ښه سړی وو چې، د هغه له مرګ څخه وروسته څرګنده شوه.

دوهم دا چې هر نېک عمل کوئ؛ نو د الله تعالی د رضا په خاطر یې کوئ، هیڅکله د ځان ښودنې او ریاکارۍ لپاره نیک عمل مکوئ، څکه په حدیث شریف کې راغلي:

عَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: 'مَنْ صَلَّى يُرَائِي فَقَدْ أَشْرَكَ، وَمَنْ تَصَدَّقَ يُرَائِي فَقَدْ أَشْرَكَ'.

(رواه احمد د مشکوة په حواله)

ژباړه:

شداد بن اوس 'رض' فرمايي چې، ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي چې فرمایل یې:

څوک چې لمونځ بل ته د ځان ښودلو (ریاکارۍ) په موخه کوي؛ نو شرک یې وکړ او څوک چې شتمني د ځان-ښودنې په موخه مصرفوي؛ نو شرک يي وکړ.

تاسې پوهیږئ چې شرک څومره غټه ګناه ده؟

که یو څوک پرته له الله تعالی څخه د بل چا عبادت وکړي؛ نو شرک یې وکړ؛ نو معلومېږي دا چې، هغه څوک صدقه ددې لپاره کوي چې خلک یې ووینې، مانا یې دا ده چې، دا د خلکو بنده ګي کوي، څکه؛ ده ته د دُنیا خلک (نعوذ بالله) له الله تعالی څخه غوره ښکاریږي او صدقه د الله تعالی د خوشحالولو پر ځای، د خلکو د خوشحالولو لپاره کوي.

★★ ★★ ★★

#ـــــبیشـــکه_چی_الله_ج ...




یو صاحب وایی چی زه په مردان کی وم ماته یو چرسی راغلی او راته ئی #ووبل

چی د چرسو دپاره لږی روپئ راکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماورته وویل چی راشه خوراک درکوم خو د چرسو دپاره روپئ نه درکوم

چرسی راته وویل چی

رزق ورکونکی بل دی

که د چرسو دپاره روپئ راکوی راکړه کنی لاړم درنه

ما یو څو روپئ ورکړی او چرسی روان شو

زه هم ورپسی روان شوم

یو ځای کی واده وو یو سړی غټ پتنوس کی وریژی روانی کړی وی هغه پتنوس تری وغورځیدو او وریژی چپه شوی

دا چرسی ورته کیناستو چی خوراک ئی شروع کولو زه ئی ولیدم

ماته ئی یوه جمله وویله چی هغه جمله به زما ټول عمر په یاد وی

راته ئی وویل

چی دا وخت می لږ تعلق ورسره خراب دی کنی په لوښی کی به ئی رزق راکولو'

خو کریم دومره مهربان دی چی له چا څخه خفه هم وی بیا ئی هم وری نشی لیدای

#الله_اکبر

بیشکه چی الله ج بهترین رزق ورکونکی دی

★★★★★★★★★★★

عبرت لنډه کیسه!

طاوس رحمه الله وايي:

یو کس خپله صدقه درې برخې کړه

او ژمنه يې وکړه،

که په کلي کې لمړی هر کس په مخه راغی؛

نو هغه ته به صدقه ورکوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمړۍ یوه ښځه په مخه راغله

او د ژمنې سره سم یې لمړۍ برخه صدقه ورکړه.

خلکو وویل:

- دا ډېره بدکاره او بدلمنه ښځه ده،

له دې وروسته بل کس په مخه راغی،

هغې ته یې دوهمه برخه صدقه ورکړه.

خلکو وویل:

- دا ډېر بد او ناوړه انسان دی،

په دریم ځل یې بل کس په مخه راغی

دریمه برخه صدقه یې هغه ته ورکړه.

خلکو وویل:

- دا کس خو ډېر شتمن دی،

د خلکو په خبرو صدقه ورکوونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دېر خپه او ناهيلی شو؛

نو صدقه ورکوونکي خوب ولید چې،

الله جل جلاله یې درې واړه صدقې قبولې کړې دي.

لومړنی ښځه زنا کاره وه،

د ډیرې بیوزلی له کبله یې بدلمنې پیل کړی وه،

کله چې تاسو ورته صدقه ورکړه؛

نو هغې د زنا څخه لاس واخیست،

دوهم کس نامتو غل و،

دا کار یې له مجبوریته کوه،

کله چې تاسو هغه ته مال ورکړ،

هغه د غلا څخه توبه وکړه.

دریم شخص خورا شتمن و؛

خو هیڅ کله یې صدقه نه کوله،

تاسو چې کله هغه ته صدقه ورکړه،

دا صدقه د هغه لپاره د عبرت یو درس شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا له برکته هغې ته هم د صدقې توفيق وشو.

ماخذ: کنزالعمال

د ثواب په نيت يې نورو ملګرو سره شريک کړئ!

★★★Faridoon dalsoz★★★

ډېره جالبه او په زړه پورې کيسه!

يو ورځ عمر بن عبدالله پر لار روان و چې،

ګوري يو غلام ناست دی او غلام ته نږدې

يو سپی هم پروت دی، غلام د خورما

سره ګوله خولې ته کړه،

بيرته يې راوويستله او سپي ته يې وروغورځله.

عمر ورته وويل دا سپی ستا دی،

حبشي ځواب ورکړ چې، نه زما نه دی.

ده ورته وويل؛ نو بيا دې ولې له خپلې خولې څخه

ګوله راوويستله او سپي ته دې ورکړه؟

حبشي غلام ځواب ورکړ چې،

د سپي له غبرګو سترګو څخه حيا راته درېږي چې،

زه يې خورم او سپی راته ګوري.

عمر بن عبيدالله ورته وويل چې،

ته ازاد يې او که غلام؟

حبشي ورته وويل چې، زه د بني غاضرة غلام يم.

عمر هغوی ته ورغی او سوال يې وکړ چې،

دا غلام د چا دی؟

د غلام خاوند ورته وويل چې، دا زما دی

عمر ورته وويل چې، دا پر ما خرڅ کړه!

هغه ورته وويل چې، بس ستا شو.

عمر ځواب ورکړ چې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه په خدای مې دې قسم وي چې،

یا به یې پیسې اخلې او یا به غلام بیرته ستا کیږي.

بیا یې غلام په پیسو واخیست.

او ویې ویل چې، تاسې شاهدان ګرځوم

چې دی د الله'ج' د رضا لپاره ازادوم.

عمر غلام ته ورغی او زیری یې ورکړ چې،

مبارک شه الله'ج' ازادي در نصیب کړه او

دا باغچه هم ستا په ملکیت شوه!

حبشي غلام ډیر خوشحاله شو

او ویې ویل چې، بس نو ددې باغچې ټوله میوه دې

د مدینې فقیرانو لپاره خیرات ګرځووم

عمر ډیر حیران شو او غلام ته یې وویل چې،

درته حیران یم، ټول دې خیرات کړه،

سره له دې چې ته پخپله هم فقیر او ورته محتاج یې.

غلام په ډیر قوي ایمان سره ځواب ورکړ چې،

له الله'ج' څخه شرمیږم چې،

هغه پر ما سخا کوي او زه بیا په هغه کې بخل کوم.

★★Eng:faridoon dalsoz★★

شتمنن څنګه فقیر او فقیر څنګه شتمن کیږي

«له پنده ډکه کیسه»

علامه ابن جوزي (رح) فرمايي،

یوه ورځ په اصفهان کې یوه شتمن سړي

له خپلې میرمن سره په کور کې

ډوډی خوړله چې په دې وخت کې

یوه فقیر د خیرات غوښتلو له پاره غږ وکړ.

دغه شتمن سړي خپلې میرمنې ته امر وکړ

چې د دغه دسترخوان ټول خواړه

دغه فقیر ته ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

میرمن یې د خپل خاوند امر عملي کړ

او د دسترخوان ټول خواړه یې راټول

او فقیر ته ورکړل.

کله چې د شتمن سړي میرمن فقیر ته

خیرات وویست ګوري چې

فقیر ژاړي او اوښکې یې بهیږي.

شتمن سړي له خپلې مېرمنې څخه

وپوښتل چې فقیر څوک و؟

میرمن یې ځواب ورکړ دغه کوم فقیر

چې اوس زموږ دروازې ته راغلی و

تر دې وړاندې ددې ښار یو ډېر شتمن سړی

او زموږ ددغه کور مالک او زما خاوند و.

میرمن یې زیاته کړه: څو کاله وړاندې

چې موږ په دې کور کې اوسېدو یو فقیر سړی راغی

او زموږ د کور دروازه یې وټکوله

ویل یې چې له دوه ورځو راهیسې یې څه نه دي

خوړلي او له سختې لوږې سره مخ دی،

له موږ څخه یې د خوراک له پاره

د الله (ج) په نامه څه وغوښتل،

زما خاوند ور ووت ملنګ یې دومره وواهه

او وراټه چې په وینې یې پرې وبهولې،

مګر پوی نه شو چې هغه فقیر زما

پخواني خاوند ته څه ډول بده دعا وکړه

چې اوس هغه خیراتونه ټولوي؟

له هغې ورځې وروسته زما ددغه

شتمن خاوند حالات بدل شول،

کار روزګار یې ختم شو،

خپل کور یې هم له لاسه ووت،

د غربت او فقر لوري ته یې مخه شوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماته یې هم طلاق راکړ

او بیا له څو کلونو وروسته ستا په نکاح کې شوم.

خاوند چې دخپلې میرمنې دغه

خبرې واورېدې ویې ویل:

ایا زه تاته له دې زیاته حیرانونکې خبره ونه کړم؟

میرمن یې ورته وویل: هو وکړه

خاوند یې وویل: هغه فقیر چې

ستا پخواني خاوند وهلی او رټلی و

هغه بل څوک نه وه مګر همدا زه وم.

د زمانې اوښتون یوه نا اشنا صحنه وړاندې کړه،

الله (ج) هغه کبرجن شتمن دومره ذلیل کړ،

چې د مال او دولت ترڅنګ یې

ورڅخه میرمن هم واخیسته،

بیرته یې دغه فقیر شتمن کړ

او هغه شتمن یې ددغه فقیر دروازې

ته د خیرات غوښتلو له پاره ودراوه.

الله هغه ذات دی چې په هر څه باندې قادر دی،

هر څه کولای شي.

درس: دغه پیښه زموږ له پاره داسې

یو عبرت دی که چېرته

یو چاته الله(ج) مال او دولت ورکوي،

په کار دی چې د الله (ج) مسکینان بنده ګان

له پامه ونه غورځوي،

په هغوی رحم او زړه سوی وکړي،

او هغوی سره د خپلې شتمنی څخه مرسته وکړي،

کنه الله (ج) ملنګان پاچاهان کولای

او پاچاهان ملنګان کولای شي

★★فریدون دلسوز لغمانی★★

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پند او عبرت لنډه کيسه!**




**يو تن له نېک او صالح شخص څخه وپوښتل:**

**ولې سپى اوه (٧) بچيان زېږوي او مېږې درې (٣) بچيان، ليکن بيا هم که وګورو؛ نو د سپيو په پرتله پسونه او مېږې ډېرې زياتې دي، حال دا چې روزانه د ميلمستياګانو لپاره ذبحه کيږي، او غوښې يې د تجارت لپاره په بازارونو کې پلورل کيږي، ددې راز په څه کې دى چې مېږې او پسونه له سپيو څخه زيات دي؟**

**نېک او صالح شخص ورته وويل:**

**-د دې راز په برکت دى!**

**بيا هغه تن ترې پوښتنه وکړه چې، وليې مېږې او پسونه د برکت مستحق ګرځيدلي نسبت سپيو ته.**

**هغه زياته کړ:**

**ځکه چې مېږې او پسونه د شپې په لومړي وخت کې آرام کوي، او د سهار څخه د مخه پاځيږي چې دا وخت د رحمتونو وخت او د الله تعالى له لوري د برکتونو د نازليدلو وخت دى، مګر سپي ټوله شپه غاپي او آرام نه کوي چې، هر کله سهار نږدې شي، د رحمتونو او برکتونو د نازليدو وخت راشي؛ نو بيا ترې دوى محروميږي؛ ځکه دوى سره برکتونه مل نه دي.**

**ګرانو ورونو او خويندو!**

**راځئ! د شپې وختي ويده کيدو او د سهار پر مهال وختي پاځيدو عادت په ځان کې پيدا کړو، تر څو د رحمتونو او برکتونو د نازليدو مستحقين وګرځو، د سهار لمونځ د جماعت سره د ترسره کولو هڅه اوهاند وکړو، تر څو الله تعالى زمونږ په ځانونو، اولادونو، مالونو او ژوند کې برکت واچوي.**

★★★★★★★★★★★

په خبرو اترو کې کفري توري کوم دي، لاندې يې دربښيوو.

له بده مرغه د ناپوهۍ له کبله ځينې وروڼه او خويندي داسې الفاظ کاروي،

چې د هغه په کارولو سره شخص کافر کيږي او نکاح يې باطليږي.

خو هغه بېچاره خبر هم نه وي، چې يا ور څخه کفر صادر شوى او يا يې هم نکاح باطله شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو دلته د ځينو کفري الفاظو يادونه کوو، ترڅو علم ورباندې حاصل شي او هغه وشي چې په ژبه ونه ويل شي.

که احياناً له چاڅخه وکارول شول، سم دستي سرى کلمه ووايي او خپله نکاح نوې کړي.

* چاته چې وويل شي، دا گناه مه کوه!

الله تعالى به دې جهنم ته واچوي، هغه په ځواب کې ورته ووايي،

چې زه يې له عذابه نه وېرېږم. د دويم کس الفاظ کفري دي.

(فتاوى عالمگيريه)

* چاته که وويل شي، چې ان شاء الله دا کار به دې وشي،

هغه ورته ووايي، چې زه يې بې ان شاءالله کوم.

* يو غريب کس بل مالدار شخص ويني؛ ن

و ووايي، چې يا الله دا نو انصاف دى،

چې دا کس دې دومره مالداره کړى او زه دې غريب کړى يم.

(فتاوى عالمگيريه)

* کله چې د چا زوى يا لور وفات وکړي او هغه ووايي،

چې بس خدايه تا دا زما پر زوى باندې وس رسېد.

يا ووايي بس خدايه تا يواځې زما زوى ليدلى و. العياذ باالله

* د نبي عليه سلام په سنتو باندې ټوکې کول يا پسخند وهل.

* کله چې يو شخص قاتل او خوني ويني؛ نو ووايي چې ملک الموت راغى.

* د قرانکريم د اياتونو مانا په ټوکو اړول، لکه ان صلاه تنهي.

يو څوک يې په ټوکو ووايي، نعوذ باالله د دې مانا ده، چې لمونځ په تنهايي سره وکړه.

* پر مسلمانى باندې د خفگان احسلس کول.

مثلاً يو څوک ووايي، چې فلانى مسلمان دى،

خود به رشوت خوري. يا مسلمان يم، ځکه غريب او مسکين يم.

* داسې خبره کول، چې قرانکريم او انجيل يو شى دي،

پر هر يوه چې عمل کوې.

* د کفارو خوشالولو لپاره د هغوى په مذهبي مېلو او اخترونو کې گډون کول.(بهار شرعيت)

* يو څوک ووايي، چې زه په شرعيت فيصله نه کوم.

راځه په جرگې به يې سره معلومه کړو.

يا يو څوک ورته کوم اسلامي حکم بيان کړي،

دى ورته ووايي چې نعوذ باالله دا هوايي خبرى دي.

* د شراب څښلو يا زنا کولو يا قيمار پر وخت بسم الله الرحمن الرحيم ويل.

(فيضان سنت)

* مسلمان ته کافر ويل، يا کافر ته مسلمان ويل.

* د الله تعالى لخوا حرام شي ته، حلال ويل. يا حلال شي ته حرام ويل.

* د مومن به هې شيانو څخه انکار کول، لکه دوزخ، جنت، ملايکې، کتابونه...

* يو چاته دغصې او درد په وخت کې ويل،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې نعوذ باالله که د خدای زوی شي هم دي ولا که پرېږدم!

★★★★★★★★

په هرو شپږو ساعتونو کې ضرور توبه وباسئ!

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

إِنَّ صَاحِبَ الشِّمَالِ لِيَرْفَعُ الْقَلَمَ سِتَّ سَاعَاتٍ عَنِ الْعَبْدِ الْمُسْلِمِ الْمُخْطِئِ أَوِ الْمُسِيءِ، فَإِنْ نَدِمَ وَاسْتَغْفَرَ اللهَ مِنْهَا أَلْقَاهَا، وَإِلَّا كُتِبَتْ وَاحِدَةً.

(المعجم الكبير للطبراني:7765, حديث صحيح)

ژباړه:

د کیڼ لوري فرشته شپږ ساعته د یو مسلمان ګناهګار او خطاکار بنده ګناه نه لیکي، که چیرې (شپږو) ساعتونو کې بنده پښېمانه شي او توبه وباسي، بیخي یې نه لیکي او-که توبه ونه باسي یوه ګناه ولیکي.

ګرانو ورونو او خویندو!

بېشکه چې له هر مسلمان څخه خطا کیږي؛ خو دا د الله تعالی رحم دی چې، مونږ ته یې د بخښنې لپاره لارې رابښودلې دي، راځئ چې له دې لارو څخه په استفادې سره خپل ځانونه له ګناهونو څخه پاک کړو او همېشه الله تعالی توبه ګار واوسو.

★★★★★★★★★★★★★★★★

د سیګرټو درې عمده ګټې:

۱. سپی مو نه خوري. ۲. غلا نه درنه کیږي. او ۳ زړېږی هم نه.

که نه یې منی، څو شیبې یې دلیلونو ته تم شی!

۱. څوک چې سیګرټ څکوي، د څه وخت په تیریدو کمزوری کیږي، مجبور دی چې امسا ورسره وګرځوي، نو له چا سره چې امسا وي، سپی ترې ډارېږي.

۲. په سیګرټو د روږدي کس سینه خرابیږي، بیا نو ټوله شپه ټوخیږي او کوم کور کې چې د شپې څوک ټوخیږي. غل غلا نه شي ترې کولی.

۳. څوک چې سیګرټ څکي، داسې ناروغی ورته پیدا کیږي، چې زړښت ته یې نه پرېږدي او ...

نو! هغه ملګري چې په سیګرټو روږدي دي، هیله ده د پرېښودو ټینګ هوډ وکړي او څوک یې چې نه دي عملي، تل ځانونه ترې وساتي.

★★★★★★★★★★★★★★★★

—( د حکمت نه ډک ښکلي ملغلري )—

1 - سپین والي ښایست نه دي او تور والي بدرنګي نه ده ، ولي چې د کفن رنګ هم سپین دي مګر ډیر خلک کرکه ځنډي کوی ، او کعبه شریفه تور رنګ لري مګر عاشقان یې بی حسابه دي

2 - هرکله چې اسمان ته سترګي پورته کوي او د ورک شي خواست یا امید کوي ، نو اول دي سر ټیټ کړه او په هغه شي شکر وباسه چې ته یې خاوند او لری یې

3 - انسان په خپل اخلاق دي نه په مظهر یا منظر

4 - سرېتوب په لوړ اواز یا په چیغو نه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چیري هغسي وای د خره ډیر لوی اواز دي

د ښځي ښایست په پرده کي دي نه په لس جامو یا بدن ، که چیري هغسي وای نو بیزوګاني به اوس د ښایست په تخت ناستي وای - 5

★★★★★★★★★★★★★★;★

**د پند لنډه کیسه!**




**یو سړي د خارویو میله کې پسه واخیست، کله چې کور ته راورسېد، غوښتل یې له موټر څخه یې راکوز کړي، له موټر څخه د راکوزېدو پر مهال پسه منډه کړه او وتښتېد.**

**سړي ورپسې منډه کړه تر څو یې را ونیسي؛ خو ناڅاپه پسه یو کور ته دننه شو!!**

**دا کور دیتیمانو وو!!**

**د یتیمانو مور به هره ورځ په دروازه کې انتظار کاوه چې، څوک به ورته دروازه کې طعام او صدقه پریږدي...**

**دغه کار به هره ورځ د دوی ګاونډیانو کاوه...**

**کله چې پسه د یتیمانو کور ته دننه شو د یتیمانو مور له کوره راووتله ګوري چې، د دوی ګاونډي ابوبکر سترى او ساه نیولی دروازې سره ولاړ دی...!!**

**د یتیمانو مور ورته وویل چې الله تعالی دې درنه صدقه قبوله کړي ابوبکره...!!**

**مبرمن ګومان کاوه چې، ده دا پسه صدقه کړی دی...!!!**

**نو ابوبکر ورته وویل: الله تعالی دې قبول کړي.**

**او ورته یې وویل چې، ای خورې! ښښنه کوه ستاسې حق کې مو ډېر تقصیر کړی..!**

**سړي قبلې ته مخ کړ او لاسونه یې پورته کړل او ویل یې: ای الله ته یې پخپل دربار کې قبول او منظور کړې...**

**په سبا ورځ د سهار لمونځ څخه وروسته ابوبکر له کور څخه بیا د حیواناتو د پلورنځي په لور روان شو، ترڅو بل پسه واخلي یو موټر یې د پسونو څخه ډک ولید او ورغی او له پروني پسه څخه یې ډیر چاغ او ښورب پسه واخیست.**

**ابو بکر ورته د قیمت پوښتنه وکړه...**

**خرڅوونکي ورته وویل چې دا مفت دی...**

**او ددې سبب دا دی چې، سرکال الله تعالی ماته ډېر زیات خاروي راکړل او ما نذر منلی و چې، که چیرې د میرو**

(c) ketabton.com: The Digital Library

رمه مې زياته شوه؛ نو اول اخيستونکى ته به ځاروى مفت ورکوم...

نو دا ستا نصيب دى او په دې توګه الله تعالى د خپلې کړې وعدې پر اساس صدقه کوونکي شخص ته له هغه څخه غوره او نعم البدل په نصيب کړ.

اى مسلمانه وروره! دا ټول د صدقې اثر وو او ته څه پوهيږې چې، صدقه کې څومره اثر او طاقت دى.

مسلمانه وروره صدقه کوه؛ ځکه چې کفن کې جېبونه نشته، سبا به مړ يې هر څه مال او دولت به دې درڅخه پاتې وي.

★★★★★★★★★★★★★

د ثواب په نيت يې نورو ملګرو سره شريک کړئ!

يادونه:

که غواړئ په زړه پورې کيسې او اسلامي معلومات ولولى؛

نو له مونږ سره په فيسبوک کى ونښلى

Faridoon Dalsoz 0781438114

او يا هم دا په زړه پورى صفحه لايک کړى

فسبوک پاڼه لايک (خوښه) کړئ (Quran_نو (#قرآن.

قران



(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**